# د ټاکنو په دوران کې د ډله ییزو رسنیو د فعالیتونو د تنظیم لایحه

## مبني

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته کمیسیون) تصویب شوه.

## موخه:

دا لایحه د ټاکنو قانون (۵۰) او (۲۱) مادو او د د دندو د تشکیل او صلاحیتونو قانون (۱۴) مادې (۹) بند (۱) فقرې ته په پام د ۱۳۹۳ کال په ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو ټاکنو کې د د ډله ییزو رسنیو (دولتي او خصوصي) اړوند چارې تنظیموي.

## په عامه پوهاوي کې د رسنیو دندې

### لومړۍ ماده:

1. ډله ییزې رسنۍ د ټاکنو پروسې په هکله د خلکو د عامه پوهاوي او په دې پروسه کې د هغوی د ګډون د کچې د لوړولو په موخه له کمیسیون او د رسنیو کمیسیون سره هراړخیزه مرسته کوي او لاندیني مواردو ته د ټولو پام وراړوي:
   الف: د رای ورکولو ارزښت
   ب: د نوماندانو پروګرامونه، اهداف، مرامنامې او کړنلارې
   ج: د ټاکنیزو سیالیو اړوند موضوعات.
   د: د ټاکنیزو موضوعاتو او د کمیسیون لوایحو او طرزالعملونو ته په پام په ټاکنو کې د خلکو دګډون په اړه د معلوماتو وړاندې کول.
   ه: له سیاسي او مدني حقونو څخه د خلکو د خبرولو په موخه د معلوماتو برابرول، داسې چې هغوی په ټاکنو کې فعال ګډون ته وهڅوي.
2. ډله ییزې رسنۍ او ټول (کورنۍ او بهرني) اړوند بنسټونه چې له سیاسي حقونو څخه د خلکو د خبرولو او په ټاکنو بهیر کې د خلکو د فعال ګډون لپاره له کمیسیون سره مرسته کوي، باید د خپلو پیغامونو په برابرولو او خپرولو کې د کمیسیون پالیسیاني جداً په پام کې ونیسي. هغوی د

کمیسیون له سمبول، نښو او ټولو رسمي نښانونو څخه د کمیسیون له لیکلې موافقې پرته په ټاکنیزو پیغامونو کې ګټه نشي اخیستلی.

3. دولتي رسنۍ مکلفې دي چې د امکان تر بریده د ټولو نوماندانو پیغامونه، مرامنامې، اهداف او کړنلارې ورپیا ، مساوي او د کمیسیون برابر شوي ټاکنیز تقویم ته په پام خپرې کړي.
4. د ټاکنو نوماندان د وروستي نوملړ د خپرولو او د ټاکنیزو سیالیو د پیلولو ترمنځ واټن (خلا ) کې د ټاکنیز تقویم له مخې د هر ډول ټاکنیزې سیالۍ له کولو منع شوي دي. ډله ییزې چاپي او برېښنايي رسنۍ باید په دغه موده کې له ټاکنیز تقویم سره سم د نوماندانو د ټاکنیزو فعالیتونو له پوښښ، د نظریو او د عکسونو او پیغامونو له خپرولو څخه چې یو ډول ټاکنیز کمپاین ګڼل کېږي، ډډه وکړي. په دغه موده کې د ټاکنو نوماندان د ټاکنو اړوند موضوعاتو په هکله د سیاسي ، ټولنیزو، اقتصادي مسایلو د کارپوه او شنونکي په توګه د رسنیو په بحثونو کې ګډون نه شي کولې او رسنۍ هم دوی نه شي وربللې.
5. ډله ییزې رسنۍ هم نشي کولې د خلکو په منځ کې د نوماندانو د نفوذ د کچې اړوند غیر علمي او غیر معیاري ارقام او د نظر سنجۍ پایلې چې په یو ډول د نوماند یا نوماندانو په ګټه یا تاوان کمپیان وي، خپرې او چاپ کړي.
د رسنیو کمیسیون د ټاکنیزو ترسره شوو نظر سنجیو د علمي او معیاري والي د تثبیت په موخه ښايي ځانګړی میکانیزم ولري.
6. د رسنیو کمیسیون د نظر سنجیو په اړه ترلاسه شوي شکایتونه په دقت څېړي او د تېروتنې (تخطي ) او یا تخلف (سرغړونې ) د اثبات په صورت کې له اړوندو لوریو سره د ټاکنو قانون او د کمیسیون له خوا د تصویب شوو لایحو سره سم چلند کوي.
7. کمیسیون ژمن دی چې ټولو رسنیو ته یو ډول معلومات ورکړي. ډله ییزې رسنۍ مکلفې دي چې خپل ټاکنیز راپورونه د حقایقو ، انصاف، دقت او بې پرېتوب پر بنسټ چمتو او خپاره کړي.
8. ډله ییزې رسنۍ مکلفې دي چې د هغو خبرونو او راپورونو له خپرولو څخه ډډه وکړي چې له دیني، مذهبي، توکمیز، قومي، ژبني، سیمه ییز او جنسیتي تبعیض لامل ګرځي.

## د افرادو شخصیت ته درناوی

دویمه ماده:

ډله ییزې رسنۍ باید د خپلو ټاکنیزو رسنیو په ترڅ کې د نوماندانو شخصیت او کرامت ته درناوی ولري، د محکمې له حکم یا د جرم د ثابتوونکو اسنادو پرته د نوماندانو خصوصي حریم زیانمن نه کړي او د هغو مطالبو له خپرولو دې ډډه وکړي چې د نوماندانو د سپکاوي، تور، او خصوصي حریم د نقض لامل کېږي.

## له تور تړلو څخه ځان ساتل

### دریمه ماده:

په رسنیو کې خپرېدونکي مطالب باید مستند او پر واقعیتونو ولاړ وي او رسنۍ مکلفې دي چې د غیر واقعي او تورونو ته ورته څرګندونو له اګاهانه خپرولو او چاپ څخه چې د ټاکنو په پایلو د اغېز لرلو له امله یې کوي، ډډه وکړي. د بې بنسټه او تور ته ورته راپور خپرولو په صورت کې د رسنیو کمیسیون له لوري سربېره پر جزایې مؤیداتو له تطبیق، خپرونکې رسنۍ باید ژر تر ژره خپور شوی راپور اصلاح کړي او زیانمنې شوې خواوې قانع کړي.

## له نوماندانو سره برابر چلند

### څلورمه ماده:

1. خصوصي ډله ییزې رسنۍ باید ټولنیز عدالت او د وګړو حقونو ته په پام له ټولو نوماندانو سره منصفانه او بې پرې چلند ولري او د امکان تر بریده د ټولو نوماندانو د لیدلوریو د خپرولو لپاره یو ډول شرایط برابر کړي.
2. د ټاکنیزو سیالیو په جریان کې دولتي ډله ییزې رسنۍ مکلفې دي چې د نوماندانو نظریات، اهداف او کړنلارې د عامه پوهاوي په موخه منصفانه، برابرې او بشپړې بې پرې سره د کمیسیون د طرزالعمل سره سمې خپرې کړي او هغوی ته یو شان لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.

## د راډیویي او تلویزوني پروګرامونو چلوونکي

### پنځمه ماده:

د رسنیو د امتیاز خاوندان، خبریالان، متصدیان او د راډیویي او تلویزوني پروګرامونو چلوونکي، په دولتي او خصوصي رسنیو کې مخکښ کسان او د خبري سرویسونو ویندویان چې په عین وخت کې د ولسمشرۍ یا ولایتي شوراګانو ټاکنو نوماندان وي، د ټاکنیزو سیالیو په ټاکلې دوره کې نه شي کولی چې د راډیویي او تلویزوني خپرونو د چلوونکي په توګه ګډون او حضور ولري.

## ګوندي رسنۍ

### شپږمه ماده:

د ټاکنو قانون د (۴۹) مادې مطابق د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو ته د ټاکنیزو سیالیو لپاره د لګښتونو وروستۍ اندازه 1 ملیونه افغانۍ او د ولایتي شوراګانو د نوماندانو لپاره پنځه سوه زره افغانۍ ټاکل شوې ده. پر دې بنسټ هغه رسنۍ چې د سیاسي ګوندونو د خپرنیز ارګان په توګه یې له اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څخه جواز ترلاسه کړی وي باید د هغو پیسو د سرچینو په اړه چې د خپلې خوښې نوماندانو په ټاکنیزو سیالیو کې یې لګوي د ټاکنیزې سیالۍ په پای کې کمیسیون ته لیکلې راپور ورکړي.

## رسنیز پروګرامونه

### اومه ماده:

1: ډله ییزې رسنۍ مکلفې دي چې په راډیویي او تلویزوني بحثونو، مناظرو او نورو ورته خپرونو کې چې د ټاکنو د نوماندانو په ګډون جوړېږي، د امکان تر بریده نوماندانو ته د منصفانه او برابر ګډون زمینه برابره کړي.
د نوماندانو د ټاکنیزو سیالیو سوداګریز اعلانونه له دې قاعدې څخه مستثنا دي.

## راپور ورکول

### اتمه ماده:

ډله ییزې رسنۍ باید د ټاکنو د نوماندانو د ټاکنیزو سیالیو پورې اړوند فعالیتونو، تبلیغاتي پیغامونو او عکسونو د پوښښ د ډول او هغو پیسو په هکله چې نوماندان یې د تبلیغاتي پیغامونو د خپرولو په بدل کې ورکوي، د ولسمشریزو یا ولایتي شورا ټاکنو د نوماندانو د نوم په تفکیک سره هره میاشت یو ځل د رسنیو کمیسیون ته راپور ورکړي.

## د ټاکنیزو سیالیو د سکوت وره

### نهمه ماده:

د ټاکنیزو سیالیو دوره د ټاکنو له ورځې څخه (۴۸) ساعته دمخه پایته رسېږي. رسنۍ د ټاکنیزو سیالیو د پړاو له پایته رسېدو وروسته د سکوت په دوره کې مکلفې دي چې:
الف: د هیڅ نوماند د ټاکنیزو سیالیو اړوند فعالیتونه خپاره نه کړي.

ب: له ټاکنو څخه دمخه او وروسته د پایلو په اړه د وخت څخه مخکښې قضاوت یا د ټاکنیزو نظر سنجیو د پایلو تخمیني لنډیز او نظرونه خپاره نه کړي.

## د ټاکنو د پایلو راپوروړکول

لسمه ماده:

ډله ییزې رسنۍ باید د کمیسیون له لوري د ټاکنو اعلان شوې پایلې په دقیق، موثق او واضح ډول خپرې کړي.

# د دې لایحې د موادو نه رعایتول

یولسمه ماده:

1: د دې لایحې د موادو نه رعایت سرغړونه ګڼل کېږي، د رسنیو کمیسیون به د ټاکنو قانون او د کمیسیون له خوا د تصویب شوو لوایحو او طرزالعملونو له مخې له سرغړونکو سره جدي چلند وکړي.

۲: د ټاکنو قانون پر اساس، د رسنیو کمیسیون د ټاکنیزو سیالیو په جریان کې د رسنیزو فعالیتونو اړوند د رسنیو د حقیقي او حقوقي اشخاصو ټولو سرغړونو او شکایتونو ته د رسېدو مرجع ده.

# انفاذ

## دولسمه ماده:

دا لایحه د تصویب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږي.